هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۴) ماه جمادی الثانی ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه قوس ۱۴۰۴ هـ. ش.

**زیادت در مهرها کار شایسته نیست: شریعت، در عروسی ها ترغیب آسانی و اجتناب از مصارف گزاف را می دهد.**

فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج های نادرست هنگام خویشی، عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره

# د پوهنې محترم وزیر د یو شمېر ریاستونو څخه لیدنه وکړه



د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا د تضمین کیفیت معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق په ملتیا، د نتایجو او شهادتنامو ریاست د چارو له بهیرڅخه لیدنه وکړه. نوموړي د مراجعینو د عرایضو څانګه، د ښوونیزو بنسټونو د فارغانو آرشیف، د نتایجو د مهرولاک او کودینګ سیستم او د شهادتنامو د بانکي چارو بهیر وڅېړه او د مراجعینو ستونزې یې واورېدې.

د پوهنې محترم وزیر د یاد ریاست مسئولینو ته د چارو د لا ښه تنظیم او معیاري خدمتونو د وړاندې کولو په موخه لازمي سپارښتنې وکړې.

همدارنګه، د پوهنې محترم وزیر د یاد وزارت د معیاري آزموینو او د پایلو ارزونې ریاست څخه د لیدنې پر مهال د یوشان متمرکزه کلنیو او معیاري آزموینو د پوښتنو د چاپ بهیر و ارزوو.

د یاد ریاست رئیس محترم مولوي شمس الرحمن حماس په داسې حال کې چې د یاد بهیر په اړه یې د پوهنې محترم وزیر ته معلومات وړاندې کول وویل: معیاري آزموینه د کابل ښار د لسمو ټولګیو لپاره په څلورو مضمونونو اخیستل کېږي او څه باندې ۱۸۰ زره پارچې په محرم ډول چاپېږي. دغه آزموینه د کټینګ له سیستم څخه برخمنه ده چې د روڼتیا په را منځ ته کولو کې مهم رول لري....

۲مخ

## تقدیر شاگرد با استعداد از سوی رهبری وزارت معارف

آریا محمدی ۷ ساله که باشنده اصلی ولایت هرات میباشد و به‌تازگی با خانواده اش از ایران به کشور برگشته است یکی از شاگردان با استعداد عالی علمی در بخش حساب و ریاضیات می باشد، رهبری وزارت معارف برای تشویق هر چه بیشتر این شاگرد، طی محفلی که اعضای خانواده ی وی نیز حضور داشتند وی را با اهدای تحایف نقدی مورد تشویق قرار داد.

در این محفل محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل معین مالی و اداری وزارت معارف

ص۲

## د کابل له عالي عربي دارالعلوم څخه ۲۱۷ تنه طلاب العلم فارغ شول

د کابل عالي عربي دارالعلوم د ۲۱۷ تنو طلابو فراغت دیوې شانداره غونډې په ترڅ کې چې د پوهنې وزارت مشرتابه، یو شمېر مرکزي رئیسانو، د اسلامی امارت لوړپوړو چارواکو، علماءکرامو، استادانو، زده کوونکو او ګڼ شمېر مېلمنو ګډون درلود و لمانځل شو.

په دې غونډه کې د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق د فارغانو بریاوې وستایلې او له هغوی نوموړي څرګنده کړه چې د ټولنې د واقعي پرمختګ لاره د علم، پوهې او معنوي روزنې له لارې شونې ده.

همداراز د پوهنې وزارت اداري او مالي معین محترم الحاج مولوي صبغت الله وصیل په خپلو خبرو کې د علماءکرامو د ټولنیزو او اخلاقي مسئولیتونو یادونه وکړه او طلاب یې وهڅول چې د راتلونکو نسلونو د سالمې روزنې، فکري رهبري او ټولنیز اصلاح لپاره خپل علمي رسالت په اخلاص سره ترسره




یې وغوښتل چې د خپلو نیتونو د پاکوالي سربېره د علومو زده کړې ته دوام ورکړي، نوموړي په ټولو ښوونیزو بنسټونو کې د معیاري زده کړو پر پراختیا ټینګار وکړ.

همدارنګه د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده طلابو ته د فراغت مبارکي وویله او زیاته یې کړه چې پوهنې وزارت هوډ لري ترڅو د ټولو تعلیمي بنسټونو تدریسي بهیر معیاري کړي.

د یادونې وړ ده، چې د کابل عالی عربی دارالعلوم د فارغانو له ډلې ۵۲ تنه یې د قرآن کریم له حفظ دورې، ۱۴۰ تنه په دولسم پاس/ ثانویه درجه او ۲۵ تنه په څوارلسم پاس/ فوق ثانویه درجو فارغ شول.

یاد مراسم د فارغانو پر سرونو د فضیلت پګړیو تړلو، د تصدیق پاڼو پر وېشلو او د دعائیې پر لوستلو سره پای ته ورسېدل.

## دیدار معین محترم تعلیم و تربیه از جریان امتحانات سالانه مکاتب



بر اساس لایحه تدریسی وزارت معارف به تاریخ اول ماه قوس، امتحانات سالانه مکاتب امارتی و خصوصی مرکز و ولایات سردسیر کشور به‌گونه رسمی آغاز شد.

به همین مناسبت، محترم شیخ عبدالمالک حقانی معین تعلیم و تربیه وزارت معارف به لیسه محمد عالم فیض‌زاد مربوط ناحیه چهارم شهر کابل رفته و از جریان امتحان بازدید کرد.

موصوف تأکید کرد که امتحان صرفاً وسیله‌ای برای گرفتن نمره نیست، بلکه مرحله‌ای مهم برای شکل‌گیری شخصیت، رشد فکری و درک ارزش علم است.

وی همچنان از همه روئسا و مسئولین معارف در ولایت های سردسیر نیز خواست تا جریان امتحانات سالانه و تطبیق نصاب در مکاتب مربوطه را از نزدیک بررسی و نتایج آن‌را با مرکز شریک سازند.

معین محترم تعلیم و تربیه تصریح کرد که مسئولین و معلمان مکاتب باید عدالت، شفافیت و رفتار متوازن با شاگردان را در امتحانات رعایت کنند و شاگردان را تشویق نمایند که تحصیل خود را صرف برای امتحان نه، بلکه به هدف تحکیم نظام اسلامی، ساختن آینده روشن، و خدمت به جامعه و کشور دنبال کنند.

## په کندهار کې د څه کم ۸ مېلیونه افغانیو په لګښت د یوې لېسې ودانۍ ورغول شوه

د کندهار ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو د معلوماتو له مخې د یاد ولایت د شاه‌ولي‌کوټ ولسوالۍ اړوند د کیغتو په کلي کې د یوې لېسې د نوې ودانۍ جوړولو چارې بشپړې او د یوې غونډې په ترڅ کې چې په کې د پوهنې ریاست مسئولینو، علماء کرامو، د سیمه ایزو ادارو...

۲مخ



## در این شماره

کلنۍ آزموینې؛ او د ژمي رخصتیو زرین فرصت — ۲مخ

کمک بیش از ۲ میلیون افغانی با نهادهای تعلیمی ولایت میدان‌وردگ در یک ماه گذشته — صفحه ۲

مطالعه د انسان شخصیت بدلوي — صفحه ۳

سرمقاله

## کلنۍ آزموینې؛ او د ژمي رخصتیو زرین فرصت

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِالمُرسَلِينَ وَ عَلَى آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ

کلنۍ آزموینې د ښوونیز کال هغه مهمې ورځې دي چې پایله یې د طلاب العلم او زده‌کوونکو د هڅو، د قدرمنو مدرسینو او ښوونکو د زیار او د ښوونیز بهیر د کیفیت په نتیجه کې معلومیږي. کلنۍ آزموینې یوازې د نمرو تر لاسه کول نه بلکې د تېر یو کال د زده‌کړو او تجربو بشپړ انځور دی چې زده‌کوونکي او ښوونکي پرې پوهېږي چې د پرمختګ کوم پړاو ته رسېدلي او کومې نیمګړتیاوې لا هم شتون لري. د کلنۍ ارزونې ارزښت په دې کې نه دی چې زده کوونکي څومره نمرې تر لاسه کوي، بلکې په دې کې دی چې طلاب او زده‌کوونکي څومره په ورځنیو درسونو پوه او د راتلونکي ښوونیز کال لپاره په کومه کچه چمتووالی لري. همدارنګه مدرسین او ښوونکي هم د همدې ارزونې له مخې د خپل تدریس اغېز ارزوي، خپلې نیمګړتیاوې درک کوي او پوهېږي چې په نوي کال کې په کومو برخو کې اصلاحات راولي. له همدې امله دا آزموینې د مدرسو او ښوونځیو د اوسني ښوونیز بهیر ارزونې او د راتلونکي نقشې جوړونې مهمه وسیله ده.

دا هم باید هېر نه کړو چې د آزموینې په پای ته رسېدو سره د طلابو او زده‌کوونکو مسئولیتونه پای ته نه رسیږي بلکې د آزموینې وروسته د زده کوونکو د زده کړې نوی پړاو پیلېږي.

له کلنۍ آزموینې وروسته ژمنۍ رخصتۍ پیلیږي. چې دا رخصتي یوازې د تفریح موسم نه دی، بلکې د زده کړو، ذهني آرامتیا. سالمو بوختیاوو او راتلونکي ټولګي ته د چمتووالي یو با ارزښته فرصت دی. هغه زده‌کوونکي چې د ژمي اوږده رخصتي په ښه توګه مدیریت کړي او په ښه توګه ترې ګټه پورته کړي په حقیقت کې د خپل راتلونکي د بریا بنسټ ږدي. زده کوونکي باید له آزموینې وروسته ذهن ته آرام ورکړي، چې د ښوونځي یو کال ستړیا یې په آرامه ساه بدله شي. خو دا د آرام ساه باید په عبث کارونو او بوختیاوو ضایع نه کړي، بلکې زده‌کوونکي دې له دې زرین فرصت څخه په ګټې اخیستنې د تېر کال درسونه بیا تکرار کړي، هغه مهم مفاهیم او موضوعات چې د وخت په تېریدو هېرېدونکي دي، یو ځل بیا خپل ذهن ته وسپاري.

همدارنګه په ژمي کې طلاب او زده کوونکي باید نوي مهارتونه زده‌کړي، بېلابېل علمي کتابونه مطالعه، بهرنۍ ژبې او کمپیوټر زده کړي او د خپل وجود د روغتیا او غښتلتیا په موخه سپورتي فعالیتونه تر سره کړي. هغه زده‌کوونکي چې په رخصتۍ کې د زده کړې پلان او ځانګړې موخه ولري، پرته له شک به دوی نوې تجربې ترلاسه کړي او خپله علمي وړتیا به پیاوړې کړي چې په دې سره به نوی ښوونیز کال د دوی لپاره د لا زیاتو بریاوو او پرمختګونو په برخه کې د ژوند بل زرین فصل وي.

ګرانو زده کوونکو! نن چې لله الحمد په ټول هېواد کې اسلامي نظام حاکم دی او تر بل هر وخت د زده کړې بهترین فرصت را منځ ته شوی نو هڅه وکړئ چې له خپل باارزښته وخت په ځانګړې توګه د ژمي له رخصتیو څخه خپلې پوهې کچې لوړولو او شخصیت جوړونې په برخه کې ګټه واخلئ او خپل قیمتي وخت بې ځایه ضایع نه کړئ.

## پکتیکا کې د ۵ مېلیونه افغانیو په لګښت ۱۸ بابه ښوونیز مرکزونه بیا ورغول شول

د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي په یاد ولایت کې د ۵ مېلیونه افغانیو په لګښت د ۱۸بابه دیني مدرسو او ښوونځیو د ودانیو د بیارغونې چارې بشپړې شوې.
د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد وایي: د زده‌کوونکو لپاره د زده‌کړې د سالم او خوندي چاپېریال رامنځته کول د هغوی په ښوونه او روزنه کې مهم رول لري نوموړي زیاته کړه: د تعلیمي تأسیساتو بیارغونه نه یوازې د ودانیو فزیکي بیارغونه ده، بلکې د زده‌کوونکو د زده‌کړې په بهیر هم ژور اغېز لري. نوموړي همداراز وویل: چې د یادو ښوونیزو مرکزونو په بیارغونې سره په زرګونو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال برابر شوی دی. د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا د بیارغونې چارو ټول تخنیکي پراوونه له نږدې څارل شوي او د ودانیو، د اوبو رسولو سیستمونو او ساتونکو د استوګنځیو بیارغونه د انجنیرۍ له معیارونو سره سمه ترسره شوې ده.

## په تېرو ۲ میاشتو کې د لوګر ولایت له پوهنې ریاست سره له ۲ مېلیونه افغانیو څخه زیاته مرسته شوې

د لوګر ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي، د یاد ولایت معارف‌پالو اوسیدونکو له لوري په نږدې دوه میاشتو کې د پوهنې له ریاست سره شاوخوا ۲ مېلیونه او ۲۴۳ زره افغانۍ نغدي مرسته شوې ده.
یادې مرستې د پوهنې ریاست په همغږۍ د ښوونیز بهیر ملاتړ، د زده‌کړو لپاره آسانتیاوو برابرولو، د زده‌کوونکو لپاره مناسب تعلیمي چاپېریال رامنځته کولو او د هغوی د نورو تعلیمي اړتیاوو پوره کولو په موخه مصرف شوې دي.
د پوهنې ریاست مسئولین وایي له دې مرستو څخه د یو شمېر دیني مدارسو او ښوونځیو لپاره اداري او تدریسي خونې جوړې شوې دي، د ځینو نورو ټولګیو د جوړېدو کار روان دی، په یو شمېر ښوونځیو کې منظم د اوبو او سولري



برېښنا سیستم فعال شوی او ځینې نور ښوونځي د اړینو وسایلو په برابرولو سمبال شوي دي.
یاده دې وي چې د ۱۴۰۴ ښوونیز کال په ترڅ کې د خلکو مرستې د لوګر له پوهنیز بهیر سره زیاتې شوې دي چې یوازې د همدې کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نږدې ۸ مېلیونه افغانۍ نغدې مرستې د دغه ولایت د پوهنې په برخه کې شوې دي.

## کمک بیش از ۲ میلیون افغانی با نهادهای تعلیمی میدان‌وردگ

بر اساس معلومات ریاست معارف ولایت میدان وردگ، در جریان ماه عقرب سال روان ۱۴۰۴، باشنده گان این ولایت در بخش بازسازی و تهیه وسایل اداری و تدریسی با مکاتب به ارزش ۲ میلیون و ۴۸۰ هزار و ۱۹۸ افغانی مساعدت کرده‌اند.
به گفته مسئولان معارف این ولایت، این کمک‌ها از سوی مردم ولسوالی‌های سیدآباد، چک، جلریز، حصه اول و مرکز بهسود به آمریت‌های معارف ولسوالی های مربوطه صورت گرفته که در بخش‌هایی چون تأمین آب آشامیدنی، ایجاد لابراتوار کمپیوتر و کارهای بازسازی به مصرف رسیده است.
رهبری وزارت معارف از بابت حمایت های مادی و معنوی باشنده گان ولایت میدان وردگ قدردانی و استقبال می نماید.

**د پوهنې محترم وزير د يو ...**

د پوهنې محترم وزیر د دوارو ریاستونو د چارو ستاینه وکړه او څرګنده یې کړه چې د پوهنې وزارت په تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې آزموینې په یوشان متمرکزه او معیاري بڼه ترسره کېږي. هغه ټینګار وکړ چې د آزموینو معیاري کول د وزارت مهم هدف دی او د دغه بهیر د ملي کولو لپاره هر ډول لازم ملاتړ ته ژمن دي.

**تقدير شاگرد با استعداد ازسوی ...**

وعده سپرد که وزارت معارف برای آریا محمدی سهولت‌های لازم تعلیمی فراهم می نماید.
وی تأکید کرد که وزارت معارف در حل مشکلات آموزشی و رشد استعداد وی، همکاری همه جانبه خواهد نمود.
در این محفل محترم مولوی اول گل ایوبی رئیس عمومی نصاب و انکشاف مسلکی و محترم مفتی عبدالولی سداد، رئیس ارزیابی استعدادهای وزارت معارف، این شاگرد مستعد بخش حساب و ریاضی را دارای استعداد برجسته و خاص در بخش ریاضیات دانستند.
در پایان، شاگرد یاد شده از سوی رهبری وزارت معارف با اهدای جوایز مادی و معنوی مورد تقدیر قرار گرفت.

**په کندهار کې د څه کم ...**

مسئولینو او د سیمې یو شمېر اوسېدونکو ګډون درلود پرانیستل شوه.
د مسئولینو په وینا؛ ددې لیسې د ودانۍ په جوړولو ټول ټال ۷ مېلیونه او ۹۸۰ زره افغانۍ لګښت شوی چې د پوهنې په برخه کې د یو همکار بنسټ لخوا مرسته شوې.
د دوی د معلوماتو له مخې ددې لیسې ودانۍ ۶۰ درسي ټولګي، ۱۰ اداري خونې او ټول اړین محلقات لري. چې په جوړېدو سره یې د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې خوندي او مناسب چاپېریال را منځ ته شوی.
دغه شان په جوړه شوې غونډه کې ویناوالو د تعلیم پر اهمیت خبرې وکړې او له زده‌کوونکو یې وغوښتل چې د ښوونځي د ودانۍ او تجهیزاتو په ساتنه کې جدي هڅې وکړي.
په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو د یاد ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنیز نظام د پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې یې د هر ډول مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه.

**ارزګان کې د ۷ بابه ښوونځیو د بیارغونې...**

او معیاري چاپېریال را منځ ته شو. په همدې حال کې د یادو سیمو اوسېدونکو هم د ښوونځیو د بیارغونې څخه خوښي څرګنده کړه او په نورو سیمو کې یې هم د ورته پروژو د پلي کېدو غوښتنه وکړه.

**نتایج رقابت علمی شاگردان ۱۰۰ مکتب...**

علماء کرام، معلمان و شاگردان اعلام شد.
رئیس تعلیمات خصوصی وزارت معارف به اهمیت و نقش علم در اصلاح و توسعه جامعه اشاره کرده، گفت: این گونه مسابقات علمی نقش مهم و به سزایی در تعمق ارزش‌های اسلامی، تربیت نسل‌های جدید کشور و شناسایی استعدادها دارد.
وی حضور پرشور جوانان، در این مسابقات را دستاورد بزرگ خوانده و از تلاش‌های مسئولین همه مراکز تعلیمی امارتی و خصوصی در این زمینه قدردانی کرد.
در ادامه رئیس نشرات و روابط عامه وزارت معارف نیز در مورد ارزش علم صحبت نموده توضیح داد: ما افغان‌ها از گذشته به اینسو نوآوری‌های خود را در عرصه علم و دانش به جهانیان عرضه کرده و جوانان را به تحصیل برای آینده درخشان کشور تشویق کرده‌ایم.
سایر سخنرانان نیز در مورد اهمیت تعلیم و تربیه در جامعه صحبت کرده و بر ادامه چنین مسابقات مؤثری در بین شاگردان مکاتب تأکید کردند.
گفتنیست که در این مسابقات، محمد امین فرزند تقی شاگرد مکتب خصوصی فردیس در سطح صنف دوازدهم، محمد اسحاق فرزند حبیب‌الله دانش‌آموز مکتب خصوصی پامیر نوین در سطح صنف یازدهم و حمید فرزند عبدالمجید متعلم مکتب خصوصی کاردان در سطح صنف دهم مقام های نخست این رقابت ها را کسب کردند که با اهدای تحایف از سوی مسئولین مورد تقدیر و تشویق قرار گرفتند.
علاوه بر این، به شماری دیگر از شاگردان ممتاز که در همین مسابقه نمرات بلند کسب کرده بودند، نیز جوایز و هدایایی از سوی مسئولین اهدا شد.

# مطالعه د انسان شخصیت بدلوي

ژباړه: حمیدالله حمیدي


څېړونکي وايي، چې د انسان شخصیت په ۳۰ کلنۍ کې ثابتېږي، ډېر يې بيا په دې اند دي چې دا يوه ارثي موضوع ده او مخکې له مخکې معلومه شوې ده.

ډېر کسان غواړي چې هوښيار وي او له دې سره په ځنګ کې خپل شخصيت جوړ کړي؛ ځکه ځينې شخصيتي ځانګړنې کله کله ژوند هم له ګواښ سره مخ کوي؛ لکه له اندازې زياته اندېښنه کول شخصيت ته په شدت زيان رسوي او انسان له يو ډول روحي فشار سره مخ کېږي او دغه راز د انسان پر ورځنيو چارو هم اغېز کوي او يا هم هغه کسان چې تل هر څه په خپل زړه کې ساتي، له هغو کسانو سره چې خپلې خوښۍ او ستونزې له نورو سره شريکوي، ډېر توپير لري.

له دې سره په ځنګ کې داسې نورې ځانګړنې هم شته چې ښې او بدې پايلې له ځان سره لري؛ کېداى شي تاسو يو داسې کس و اوسئ چې له هر ډول چاپېريال، خلکو او کارونو سره جوړجاړى وکړى چې ستاسو دغه ځانګړنه تاسو ته په خپلو چارو کې پوره بريا در په برخه کوي او خلک درسره مينه کوي. که خداى جل جلاله مه کړه داسې يو کس و اوسى چې خلک درنه کرکه کوي، هڅه وکړئ ځان پر داسې يوه کس بدل کړئ چې خلک درسره مينه پيدا کړي. د ارواپوهانو په اند، هغه شخصيتي ځانګړنې چې زموږ رفتار او سلوک څرګندوي پر پنځو لويو برخو وېشل شوي دي. په دې پنځو برخو کې يوه يې هم "تجربه "ده چې تر ټولو مهمه بلل شوې ده.

ډېرى کسان د افسانو قرباني شوي دي او په دې اند دي چې د انسان شخصيت بدلون نه مومي. دوى داسې فکر کوي چې د ټول ژوند په اوږدو کې به له انسان سره هماغه يو ډول شخصيت ملګرى وي او بدلون به نه کوي، خو که پر دې پوه شي، لا هم اميد شته چې وکولاى شي خپل شخصيت ته بدلون ورکړي، نو خوښ به شي.

نو آيا مطالعه کولاى شي د انسان



شخصيت ته بدلون ورکړي؟ او که ځواب هو وي نو څومره کولاى شي پر شخص باندې مثبت تاثير وکړي؟

د ډېرو په زړه پورې څېړنو په پايله کې دا جوته شوه چې افسانوي کيسې او داستانونه په خاصو او ځانګړو ډولونو جوړول او لوستل کولاى شي انسان ته بدلون ورکړي، خپلې خوا ته يې جذب کړي او اصلاح شي.

د شخصيت له ځانګړنو څخه چې ادبيات پرې اغېز کوي، يوه "همدلي" او همرازي ده، دغه توان مندي په دې معنا ده چې انسان کولاى شي خپل ځان د بل پر ځاى فرض کړي.

هغه کسان چې دغه ډول افسانوي کيسې او داستانونه يې لوستي وي کولاى شي په ډېرې آسانۍ سره د نورو خلکو احساسات درک کړي، البته داسې نه ده چې يوازې زړه سواندي کسان ډېره مطالعه کوي، بلکې ډېره مطالعه په انسان کې د خواخوږۍ حس پيدا کوي.

د يو شمېر څېړونکو څېړنې ادبيات په دريو برخو وېشي؛ داسې چې ادبيات کولاى شي له لنډمهال بدلون سره سره په انسان کې اوږدمهال بدلون هم راوستلى شي. لوستل هرو مرو اغېز لري او په انسان کې بدلون راولي.

**۱- فکر وکړئ د نورو په ذهن کې مو ځاى نيولى**

د داستانونو لوستل موږ ته دا چانس راکوي چې له دې لارې وکولاى شو د يو چا داخلي دنيا ته ور د ننه شو او د دوى خپل شخصيت هم کشف کړو او ويې پېژنو، لکه څرنګه چې د تاريخي کتابونو لوستل په اړونده برخه کې زموږ معلومات زياتوي، دغه راز کيسې، ناولونه او رومانونه هم کولاى شي موږ ته ټولنيز خواص او مهارتونه را وښيي.

**۲- په موقتي ډول مو خپل احساسات پردي کړئ**

د ليکوال د ليکلو سبک او هغه کنايې چې ليکوال په خپله ليکنه کې کارولې دي، د دې سبب ګرځي چې لوستونکى دومره د ځان په طرف جلب کړي چې ان کله ځان د داستان او يا ناول د اصلي کرکټر په توګه ورته برېښي. دغه راز مطالعه مو دې ته اړ باسي چې له سره پر خپل فکر او ذهن باندې کار وکړئ.

**۳- د مطالعې له لارې خپل او د بل شخصيت معلومولى شو**

د کتابونو مطالعه موږ ته دا وړتيا راکوي چې د ليکوال شخصيت په آسانۍ سره درک کړو، ويې پېژنو او دغه راز ورسره خپل شخصيت پرتله کړو.

په حقيقت کې که د مطالعې په وخت کې رانه اصلي لاره ورکه نه شي، نو کولاى شو په ډېرې آسانۍ سره د خپل شخصيت منفي ټکو ته پام وکړو او اصلاح يې کړو، څومره مو چې ذهن خلاصېږي، په همدې اندازه مو د غمرازۍ او همدلۍ فکر په سر کې وده کوي او په آسانۍ سره کولاى شو د نورو خلکو احساسات درک کړو چې دغه کړنه مو بيا پر دايمي اړيکو هم اثر پرې باسي چې په اصل کې به مو بيا خپل شخصيت ته د خپلې خوښې وړ بدلون ورکړى وي.

## ترانه معارف

معارف تویی افتـــــخارم
به راهِ تو مــــــن استوارم
تنم زنده از مـــعرفت شد
مــــعارف ترا دوست دارم
بنامی تونازم مـــــــعارف
مــــعارف توهستی وقارم
به من هدیه دادی حـقیقت
تو کردی مـــعارف عمارم
زظلمـــــــت رهانیدی مارا
مـــن اندررهت جان نثارم
تـــــو یی عزت و سرفراز
توهستی مــــــعارف بهارم
چو آبی حـــــیاتی معارف
چوشمعی تودر شامی تارم
رساندی به اوج ســـعادت
ز بـــودن تو من برقرارم

**سيد محمد شهزاد**

## نبوي ملغلرې

**د خپل مسلمان ورور سره مرسته**

د حضرت عمران رضي الله عنه نه روايت دى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې د خپل مسلمان ورور مرسته د هغه په غياب کې وکړي او د هغه د مرستې توان ولري، نو الله تعالى به په دنيا او آخرت کې د هغه مرسته وکړي.

(رواه البيهقي في شعب الايمان)

***

**د الله جل جلاله د نعمتونو شکر ادا کول**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: هغه کسانو ته وګورئ چې له تاسو څخه په ټيټه کچه کې دي، خو هغوى ته مه ګورئ چې له تاسو څخه په لوړه کچه کې دي، ځکه دا غوره ده چې تاسو د الله جل جلاله نعمتونه کم ونه ګڼئ.

(صحيح مسلم / ۲۹۶۵)

***

**د عالم فضيلت**

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: د عالم فضيلت په عابد باندې داسې دى لکه څرنګه چې د څوارلسمې سپوږمۍ غوره والى په ټولو ستورو باندې دى.

الترغيب و الترهيب : ۷۳/۱

***

**دوه مخى انسان**

ابوهريره رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: دوه مخي خلک به د قيامت په ورځ د الله جل جلاله په نزد تر ټولو بدترين خلک وي، دوه مخي خلک هغه دي چې ځيني خلکو ته په يوه مخ ورځي او نورو خلکو ته په بل مخ ورځي.

(رواه البخاري/ ۷۱۷۹)

## لنډخبرونه

**غور**

د تيورې ولسوالۍ يخن لېسې ودانۍ د خلکو او د يو تن معارف دوسته شخص لخوا ترميم او د پوهنې مسئولينو، د محلي ادارو چارواکو او د خلکو استازو په حضور کې پرانيستل شوه.

د يادې لېسې پر بيارغونه ۲ مېليونه افغانۍ لګښت راغلى، چې نيمايي برخه يې د محترم حاجي نورالدين ترابي او پاتې يې د خلکو له خوا ورکړل شوې ده.

**نورستان**

د نورستان ولايت په کامدېش ولسوالۍ کې د يوې لېسې لپاره د لمريزې برېښنا سيستم، پاکې اوبه او د اړينو ملحقاتو پروژه د ۳.۸ مېليونه افغانيو په لګښت بشپړه او د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

ياده پروژه د يوې همکارې ادارې په مالي ملاتړ سرته رسېدلې ده.

**پکتيکا**

د پکتيکا ولايت د پوهنې رياست له لوري د ياد ولايت ۱۴ ولسواليو ته د ۵ مېليونه افغانيو په ارزښت ۴۲ قلمه اداري او تدريسي توکي ووېشل شول.

په دغو توکو کې ميزونه، کمپيوټرونه، د سولري برېښنا سيسټمونه او نور اړين اداري لوازم شامل دي.

د پکتيکا د پوهنې رئيس، مولوي عبدالوکيل خالد، وويل: دا توکي د ښوونې بهير د پياوړتيا او د ښوونکو د اداري اړتياوو د پوره کولو په موخه وېشل شوي دي.

**بدخشان**

د بدخشان ولايت تشکان ولسوالۍ اړوند د سنګ‌کلان لېسې احاطوي دېوال د ۳ مېليونه افغانيو په لګښت جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

ياد احاطوي دېوال ۴۴۷ متره په اوږدوالي جوړ شوى، چې دوه دروازې هم پکې نصب شوې دي.

دا پروژه د پوهنې له عادي بودجې او د همکارو بنسټونو په مالي ملاتړ سرته رسېدلې ده.

**خيبر پښتونخوا**

هيأتی از مسئولين معارف از مدارس دينی و مکاتب ايالت خيبر پښتونخوا در نواحی مانسهره مربوط حوزه تعليمی هری‌پور بازديد و ارزيابی به‌عمل آوردند.

در جريان اين ارزيابی، وضعيت عمومی مدارس و مکاتب، نظم درسی و کيفيت آموزش بررسی گرديد و به مسئولين مربوطه توصيه‌ها و هدايت‌های لازم داده شد.

**پکتيا**

برای ساخت يک باب مدرسه دينی بنام فاروقيه در قريه زاهو در مربوطات شهر گرديز مرکز ولايت پکتيا از سوی باشنده گان محل مبلغ ۶۲۰ هزار افغانی مساعدت مالی صورت گرفته است.

محترم الحاج مولوی عبدالقيوم فاروقی، رئيس معارف ولايت پکتيا، ضمن قدردانی از مردم علم‌دوست ولسوالی مذکور از ساير افراد ثروتمند و خيّر نيز خواست که در راستای پيشرفت معارف، با مکاتب و مدارس همکاری نمايند.

**Marif**
Weekly

**کتنپلاوی:** شيخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبيب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»

**صفحه آرا :** محمد قسيم «يعقوبي»
**شمېر :** ۳۰۰۰
**پته:** کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**د پوهنې کاروان مينه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې ليکنې، وړانديزونه او نيوکې په لاندې برېښنا ليک او تليفون شمېرې له موږ سره شريکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 314 /2025


# د ساینس ستوري سیالیو غوره زده‌کوونکي وستایل شول

د کابل ولايت پوهنې رياست له لوري، په جوړه شوې غونډه کې د ساينس ستوري سياليو غوره زده‌کوونکي د ډاليو په ورکولو وويارل شول.

په دې غونډه کې، د پوهنې وزارت مالي او اداري معين محترم الحاج مولوي صبغت‌الله وصيل، د کابل ولايت پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي عبدالسلام شعيب، ګڼ شمېر مسئولينو، د زده‌کوونکو والدينو او نورو مېلمنو ګډون درلود.

ويناوالو د اسلامي او ساينسي علومو د زده کړې په ارزښت خبرې وکړې او زده‌کوونکي يې وهڅول چې د ديني علومو ترڅنګ د ساينسي علومو په زده کړه کې هم هڅه وکړي.

د مراسمو په پای کې، د مسئولينو له لوري غوره زده‌کوونکي په ډاليو او ستاينليکونو وستايل شول، چې د لومړي تر درېيم مقام پورې ساينس ستوري ترلاسه کوونکو ته لپټاپ کمپيوټرونه، د څلورم او پنځم مقام ترلاسه کوونکو ته آی پډونه او نورو ګډون‌والو ته بېلابېلې ډالۍ ورکړل شوې.



## ارزګان کې د ۷ بابه ښوونځيو د بيارغونې چارې بشپړې شوې

د ارزګان ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو د معلوماتو له مخې په ياد ولايت کې د پوهنې وزارت له بودجې څخه د ۴ مېليون، ۶۵۳ زره او ۱۰۸ افغانيو په لګښت د ۷ بابه ښوونځيو د ودانيو د بيارغونې چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

د پوهنې رياست مسئولين زياتوي دغه ښوونځي د ګرم آب، شهر نو، عائشه زايي، شاه مشهد، کهنه قلعه، وردګ کوټ او سيدال خان په سيمو کې موقعيت لري. چې په بيارغونې سره يې د يادو سيمو زرګونو تنه زده‌کوونکو ته د زده کړې مناسب

۲مخ

## نتايج رقابت علمی شاگردان ۱۰۰ مکتب خصوصی شهر کابل اعلان شد



مسابقات علمی که از سوی رياست تعليمات خصوصی وزارت معارف ميان ۳۰۰ تن شاگردان ممتاز ۱۰۰ مکتب خصوصی شهر کابل برگزار شده بود، با حضور محترم الحاج قاری عبدالباسط حقانی رئيس تعليمات خصوصی، محترم مفتی حبيب‌الله قتاده نوری رئيس نشرات و روابط عامه و برخی مسئولين ادارات مرکزی اين وزارت ...

ص۲

## فارياب ولايت کې د ۱۱.۹۳ مېليونه افغانيو په لګښت د يو باب ښوونځي ودانۍ پرانيستل شوه

د فارياب ولايت ميمنې ښار په مرکز کې د سلطان حسين بايقرا لومړني ښوونځي نوې ودانۍ، چې د يو همکار بنسټ په مالي مرسته د ۱۱.۹۳ مېليونه افغانيو په لګښت جوړه شوې، د ياد ولايت د پوهنې او سيمه‌ييزو ادارو د مسئولينو په ګډون د يوې غونډې په ترڅ کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د فارياب ولايت د پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي حميدالله ارشاد وويل: ياده ودانۍ ۶ درسي ټولګي، اداري خونه، لابراتوار، د ساتونکي کوټه، د سولري برېښنا شبکه، احاطوي دېوال، د څښاک پاکو اوبو سيستم، د زده‌کوونکو او اداري لپاره مېز او څوکۍ، د اور وژنې وسايل، لوبغالی او په نورو ضروري اړتياوو سمبال دی چې په جوړېدو سره يې د سيمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېريال را منځ ته شوی، دغه ښوونځی په ۲ زره متره مربع ځمکه جوړ شوی، چې د سيمې د يوه علم دوسته شخص لخوا وقف شوې وه. د فارياب ولايت د پوهنې رئيس د روان کال د فعاليتونو د راپور وړاندې کولو ترڅنګ څرګنده کړه: معارف د ټولو افغانانو ګډ کور دی او د پوهنې وزارت رهبري د ښوونې او روزنې ارزښت ته په کتو تل هڅه کوي، چې د هېواد بچيانو ته لازمې تعليمي آسانتياوې، مناسب ځای او خوندي چاپېريال برابر کړي.



د سيمې اوسېدونکو هم د دوی په سيمه کې د ياد ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او په هېواد کې يې د علم او پوهې د ودې په برخه کې د پوهنې وزارت هڅې وستايلې.

## افتتاح تعمير جديد يک باب مدرسه دينی در ولايت دايکندی

تعمير جديد مدرسه دينی بهرالعلوم در منطقه برمنی ولسوالی پاتو ولايت دايکندی طی محفلی با شکوهی با حضور محترم الحاج مولوی شيرمحمد صديقي رئيس معارف، علمای کرام، متنفذين و ساير مسئولان ادارات محلی آن ولسوالی افتتاح شد.

به گفته مسئولان رياست معارف ولايت دايکندی تعمير مدرسه ياد شده دارای ۵ اتاق درسی، ديوار احاطه با ملحقات ضروری ديگر آن بوده که به هزينه ۷۶۴ هزار افغانی از سوی مردم محل اعمار گرديده و برای بيش از ۷۰ تن طلاب محيط مناسب آموزشی را فراهم نموده است. در محفل که به مناسبت افتتاح مدرسه متذکره برگزار گرديده بود رئيس معارف ولايت دايکندی در سخنان شان در مورد اهميت کسب علم صحبت نموده و با ابراز امتنان و قدردانی از مردم، آنان را در راستای آموختن علوم دينی و عصری تشويق کرد.



## افتتاح يک باب مدرسه دينی در ولايت غزنی

ساختمان يک باب مدرسه دينی بنام الطيبه در قريه ده حمزه ولسوالی خواجه عمری ولايت غزنی طی محفلی از سوی محترم الحاج مولوی مير نصير احمد حسينی رئيس معارف آن ولايت در حالی که شماری از مسئولين معارف، علماءکرام و باشنده‌گان محل نيز حضور داشتند، افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

اين مدرسه ۲ ميليون و ۶۰۰ هزار افغانی هزينه برداشته که وجوه مالی آن از سوی يکی از شخصيت های متدين و علم دوست آن ولسوالی پرداخت شده است.

مسئولين رياست معارف ولايت غزنی می گويند، مدرسه ياد شده در مساحت ۸ جريب زمين ساخته شده که دارای ۷ صنف درسی با ساير تأسيسات لازمی آن می باشد که در يک وقت ظرفيت ۲۵۰ طلاب را دارا می باشد

**د يتيم له مال څخه په مړي پسې خيرات او صدقه کول که څه هم د يتيم په اجازه وي، منع دي، هغه څوک چې د يتيم په مال کې دا ډول تصرف وکړي، ضمان پرې لازم دی.**

د خپښی، ودونو، مصيبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله تعالی فرمان